# د خلافت په نشتون کې مو سپین‌سرې ژوندۍ سوځول کېږي!

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**(ژباړه)**

**خبر:**

د اپریل په ۱۲ مه، DOAMuslims خبري اژانس راپور ورکړ چې د یهودي عسکرو لخوا د نایفه رزق په نوم یوه ۹۷ کلنه فلسطینۍ ښځه په خپل کور کې ژوندۍ وسوځول شوه. پر الشفاء روغتون تر برید وروسته دوې اونۍ یې د کورنۍ اړیکه ورسره پرې وه؛ کله چې یې زامن راغلل په خپل سوځوېدلي کور کې یې د هغې سوځېدلی جسد پیدا کړ.

**تبصره:**

*لا حول و لا قوة إلّا باللّه!* الله سبحانه وتعالی په صراحت د اور په وسیله وژل یا په دې پورې اړوند ټولې سزاوې حرامې ګرځولې. ان د جګړې پر مهال د اسلام له دښمنانو سره هم د داسې کړنې جواز نشته. تر ټولو سخت عذاب په اور سوځول دي؛ لکه الله سبحانه و تعالی چې د جهنم د خلق کولو پر وخت امر کړی. ابن عباس روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

## «لَا تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ» يَعْنِي النَّارَ

**ژباړه:** *د الله په عذاب چا ته عذاب مه ورکوئ، یعنې په اور عذاب.* [مسند امام احمد]

وینو چې د خلافت دولت په نشتون کې د سپین سرو، کمزورو او بې ګناه ښځو په حق کې د الله سبحانه وتعالی د حرمتونو ماتول څومره اسانه شوي! نو واجب ده چې دغه جنایتونه د امت غوږونو ته ورسوو چې ګوندې راوپارېږي. څنګه کولی شئ د الله سبحانه و تعالی د دین قایمولو او د دغه امت د ښځو او نجونو د عزت ساتلو په اړه د هغه سبحانه و تعالی د امر پر وړاندې چپ شئ!؟ په غزه کې له ټولیزې لوږې او داسې ناروغیو سره مخ یو چې نوي زیږېدلي او نازیږېدلي ماشومان تر لوېېدو وړاندې وژني. د وخت په تر ټولو ستره اړتیا کې هېڅ ډول ځنډ او غفلت د منلو او توجیه وړ نه ده.

موږ هغو کمزورو او دردمنو خویندو ته چې په غزه کې یې خپلې کورنۍ او نارینه له لاسه ورکړي او هغو کسانو ته چې د تاریخ په تر ټولو سخت حالت کې یوازې پرېښودل شوي؛ دعا کوو. إن‌شاءالله، ژر به د امیرالمومنین

نصرت ولرو او له هغو کسانو سره به وو چې په دې لار کې ثواب اخلي؛ الله سبحانه و تعالی خو دې پر موږ رحم وکړي او د دوزخ له اوره مو دې وساتي!

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عمرانه محمد**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د شوال ۱۰مه**

**۲۰۲۴م کال، د اپريل ۱۹مه**